# داسلام رسول محمد صلى الله عليه وسلم




رسول الإسلام ﷺ بشتو

بيان الإسلام
Bayan AL-Islam

ح جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات ، ١٤٤٤ هـ

فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر

جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات

رسول الإسلام - بشتو. / جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات؛

جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات- ط١. . - الرياض ، ١٤٤٤ هـ

١٩ ص ؛ ١٤ × ٢١ سم

ردمك: ٦-٦٩-٨٤٠٢-٦٠٣-٩٧٨

١- السيرة النبوية أ.جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات(مترجم)

ب. العنوان

ديوي ٢٣٩ ١٢١٩٠ / ١٤٤٤

شركاء التنفيذ :

بيان الإسلام — جمعية الربوة — رواد التراجم — المحتوى الإسلامي

يتاح طباعة هذا الإصدار ونشره بأي وسيلة مع
الالتزام بالإشارة إلى المصدر وعدم التغيير في النص

Tel : +966 50 244 7000
info@islamiccontent.org
Riyadh 13245-2836
www.islamiccontent.org

# د اسلام رسول محمد

# (صلی الله علیه وسلم)

بسم الله الرحمن الرحيم

## د اسلام رسول محمد (صلى الله عليه وسلم)

د اسلام له رسول محمد -(صلى الله عليه وسلم)- په اړه لنډ معلومات چې په هغې کې به یې - نوم، نسب، هیواد، ودونه، استازولي(پیغمبري)، هغه څه چې بلنه یې ورته کړې، د نبوت نښې یې، د هغه شریعت او د دښمنانو دریځ یې - بیان کړم.

❖❖❖

## د هغه نوم، نسب او هغه ښاریې چې پکې زیږیدلی او لوی شوی دی

د اسلام رسول محمد -(صلى الله عليه وسلم)- د عبدالله زوی، د عبدالمطلب لمسی، د هاشم کړوسی او د ابراهیم د زوی اسماعیل علیهم السلام له اولادې څخه دی. دا ځکه چې د الله نبي ابراهیم علیه السلام له شام څخه مکې ته راغی، له هغه سره یې هاجره مېرمن او اسماعیل زوی هم په زانګو کې و، هغوی دواړه یې په مکه کې د الله په امر سره مېشت کړل، کله چې ماشوم ځوان شو، ابراهیم علیه السلام مکې ته راغی، هغه او زوی یې اسماعیل -علیهما السلام- بیت الحرام کعبه جوړه کړه، خلک د هغې شاوخوا زیات شول او مکه د خلکو د پالونکي؛ الله د لمانځونکو هدف وګرځېدله، چا چې د حج اداکولو ته لېوالتیا درلوده، او خلکو د ابراهیم علیه السلام پر ملت د الله لمانځلو او یووالي ته ادامه ورکړه. بیا له دغه وروسته انحراف (کوږوالی) رامنځته شو، نو د عربو د ټاپو وزمې حال هم داسې شو لکه د هغې شاوخوا د نړۍ د نورو ښارونو غوندې، د شرک چارې ښکاره شوې، لکه د بوتانو لمانځل، د لوڼو ښخول، پر ښځو ظلم، درواغ ویل، د شرابو څښل، د ناوړه کړنو ترسره کول، د یتیم مال

خوړل او سود اخېستل. په دغه ځای او دغه ټولنه کې د اسلام رسول؛ محمد - د عبدالله زوی د ابراهیم د زوی اسماعیل علیهم السلام له اولادې څخه په ۵۷۱ زېږدیز کال کې - پیدا شو، پلار یې د هغه له زوکړې مخکې وفات شـو، مور یې د هغه د عمر په شپږم کال وفات شوه، تره یې ابوطالب د هغه پالنه پر غاړه واخېستله، هغه یتیم او بې وزله را لوی شو، هغه د خپل لاس ګټه خوړله.

❖❖❖

## مبارک واده له مبارکې مېرمنې سره

کله چې هغه د پنځه ویشت کلونو شو، د مکې یوې سردارې مېرمنې، د خویلد له لور خدیجې - (رضي الله عنها) - سره یې واده وکړ، له هغې څخه یې څلور لونې او دوه زامن پیدا شول، دواړه زامن یې په کوچنیوالي کې وفات شول، د هغه له خپلې مېرمنې او کورنۍ سره ډېر نرم او د مینې چلند و، ځکه خو یې مېرمنې خدیجې زیاته مینه ورسره لرله، هغه هم همدارنګه مینه ورکوله، او تر مړینې وروسته یې تر ډېرو کلونو پورې نه هېرېدله، پسه به یې حلالولو او د خدیجې (رضي الله عنها) په ملګرو مېرمنو به یې د هغې د درناوي په موخه وېشلو، تر څو له هغې سره نیکي وکړي او د مینې ساتنه یې وکړي.

❖❖❖

## د وحې پیل

د الله رسول محمد (صلى الله عليه وسلم) چې الله له کومې ورځې پیدا کړی و همداسې لوی ښه خویونه یې لرل، قوم یې په رېښتوني او امانتدار نومولی و، او په لویو کارونو کې به یې ګډون ورسره کاوه، د بت لمانځلو له چارو یې کرکه کوله او ګډون به یې پکې نه کاوه.

او کله چې څلوېښت کلن شو په داسې حال کې چې په مکه کې و، الله د استازي په توګه غوره کړ، نو جبرئیل پرېښتې د قرآن له سورت څخه لومړي آیتونه ورته راوړل، چې هغه دا د الله تعالی وینا ده.

اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ (١). خَلَقَ الإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ (٢). اقْرَأْ وَرَبُّكَ الأَكْرَمُ (). الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ (٤). عَلَّمَ الإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ (٥).

ولوله د خپل هغه پالونکي پر نوم چې پیدا یې کړ. د وینې له ټوټې یې انسان پیداکړ. ولوله او ستا پالونکی ډېر عزتمند دی. هغه چې په قلم سره یې ښوونه وکړه. انسان یې پر هغه څه پوه کړ چې نه پرې پوهېده. د العلق سورت: ١- ٥ آیتونه

نو خپلې مېرمنې خدیجې (رضي الله عنها) ته راغی په داسې حال کې چې زړه یې لړزېده، او هغې ته یې کیسه وکړه، هغې ډاډ ورکړ، او د خپل تره زوی ورقه بن نوفل ته یې بوت، هغه نصراني و، تورات او انجیل یې لوستلي و، خدیجې ورته وویل: اې د کاکا زویه، له خپل وراره څخه دې واوره، ورقه ورته وویل: ای وراره څه وینې؟ نو د الله رسول -(صلی الله علیه وسلم)- پر هغه څه خبر کړ چې لیدلي یې و، ورقه ورته وویل: دا هغه ناموس (د الله رازدار) دی چې موسی علیه السلام ته به راتللو، کاش زه هغه مهال ځوان وای ( چې ستا ملاتړ او مرسته مې کړې وه)، کاش زه هغه مهال ژوندی وای چې قوم دې تا ( له وطنه ) وباسي، د الله رسول (صلی الله علیه وسلم) ورته وفرمایل: ایا هغوی به ما وباسي؟ هغه وویل: هو، هر چا چې ستا غوندې څه راوړي، له هغه سره دښمني شوې ده، که هغه ورځ زه وم ټینګه مرسته به دې کوم.

په مکه کې پر هغه د قرآن نزول دوام وکړ، جبرئیل علیه السلام به د مخلوقاتو د پالونکي له لوري نازلاوه، همدا رنګه به یې د رسالت په اړه ورته تفصیلي معلومات راوړل.

په همدې توګه هغه خپل قوم ته د اسلام بلنه ورکړه، قوم یې هغه رد کړه او شخړه یې ورسره وکړه، او له رسالت څخه د تېرېدو په بدل کې یې هغه ته د مال او پاچایۍ وړاندېز وکړ، هغه دا هرڅه رد کړل، او هغوی هغه ځه ورته وویل لکه څنګه چې له هغه مخکې سردارانو رسولانو ته ویلي وو: چې کوډګر دی، درواغجن دی، تورلګوونکی دی، پر هغه یې سختي راوستله او د هغه پر شریف بدن یې تېری وکړ او د هغه پیروان یې وځورول. او رسول (صلی الله علیه وسلم) په پرله پسې توګه په مکه کې الله ته بلنه کوله، د حج شپې ورځې او د عربو موسمي بازارونه یې موخه ګرځولې وو، چې له خلکو سره به یې پکې لیدل او اسلام به یې ورته وړاندې کاوه، نه یې له دنیا او مشرۍ سره لېوالتیا پیدا شوه او نه له تورې وډار شو، او هغه لره هیڅ داسې سلطان او پاچا نه و، مګر داچې هغه د خپلې بلنې په پیل کې ننګوونه ورته اعلان کړه، چې(که) هغوی(کولای شي نو) د هغه قرآن په څېر دې (داسې څه) راوړي چې هغه راوړی دی، همداسې یې خپل دښمنان پرې وننګول، نو له صحابه کرامو -(رضي الله عنهم) اجمعین- څخه چې چا ایمان راوړ؛ هغوی ایمان راوړ.

او په مکه کې الله پر لویو نښانو ونازاوه، چې هغه بیت المقدس ته( د شپې لخوا) سفر، بیا اسمان ته ختل و، او ښکاره خبره ده چې الله الیاس او مسیح علیهما السلام آسمان ته پورته کړي دي،لکه څرنګه چې د دې خبرې یادونه په اسلام او مسیحیت دواړو کې شوې ده. او نبي -(صلی الله علیه وسلم)- د الله له لوري

په اسمان کې د لمانځه امر ترلاسه کړ، او هغه همدغه لمونځ و چې نن سبا یې مسلمانان په ورځ کې پنځه وخته کوي، او په مکه مکرمه کې یوه بله لویه نښانه هم تر لاسه شوه چې هغه د سپوږمۍ چاودېدل و، تردې چې مشرکانو هم ولیدله.

او د قریشو کافرانو هغه ته په چل جوړولو او له هغه څخه د خلکو د منع کولو لپاره له هرې لارې کار واخېست، د نښانو په غوښتلو کې یې ډېر ضد وکړ، له یهودو یې مرسته وغوښتله، تر څو په هغو دلایلو سره یې مرسته وکړي چې د هغه پر خلاف شخړه کې او له هغه څخه د خلکو په را ګرځولو کې ورسره مرسته وکړي.

کله چې د قریشو د کافرانو لخوا مؤمنانو ته د ستونزو جوړول زیات شول، نبي -(صلی الله علیه وسلم)- هغوی ته حبشې ته د هجرت اجازه ورکړه، او نبي -(صلی الله علیه وسلم) - ورته وویل: هلته یو عادل پاچا دی، د هغه پر وړاندې پر هیچا ظلم نه کیږي، هغه نصراني پاچا و، نو دوو ډلو حبشې ته هجرت وکړ، کله چې مهاجران حبشې ته ورسېدل، پر نجاشي پاچا یې هغه دین وړاندې کړ کوم چې نبي محمد - (صلی الله علیه وسلم) - راوړی و، هغه اسلام راوړ، او ویې ویل: دغه پر الله قسم هغه څه دي چې موسی علیه السلام ورسره راغلی و، ترڅو له یوې رڼا څخه راووځي، (له بله پلوه هلته په مکه کې یې ) قوم یې د هغه او د هغه د ملګرو د ربړولو لړۍ جاري وساتله.

او له هغو خلکو څخه چې په موسم کې له مدینې څخه راغلي و او بیا مسلمانان شول پر اسلام راوړلو یې ورسره بیعت وکړ او پدې چې ملاتړ به یې کوي کله چې دی مدینې ته ورستون شي، او هغه مهال(مدینه) د یثرب په نوم یادېدله، نو

ځوک چې په مکه کې پاتې وو هغوی ته یې نبوي مدینې ته د هجرت اجازه ورکړه، نو هغوی هجرت وکړ او په مدینه کې اسلام خپور شو، تردې چې هلته هیڅ داسې کور نه و چې اسلام دې نه وي ور ننوتلی.

وروسته لدې چې نبي - (صلی الله علیه وسلم) - په مکه کې دیارلس کاله تېر کړل، خلک یې الله ته رابلل، الله هغه ته د نبوي مدینې لوري ته د هجرت اجازه ورکړه، نو هغه (صلی الله علیه وسلم) هم هجرت وکړ او د الله لوري ته بلنې ته یې دوام ورکړ او همداسې د اسلام حکمونه پکې لړ لړ نازلېدل، او خپل استازي یې د قبیلو مشرانو او پاچایانو ته لېږل پیل کړل چې له هغوی سره به لیکونه وو، هغوی یې اسلام ته رابلل، ځنې هغه کسان چې استازي یې ورولېږل: د روم، فارس او مصر پاچیان وو.

په مدینه کې د لمر نیونې پېښه رامنځته شوه، خلک وویرېدل، او دغه ورځ د نبي (صلی الله علیه وسلم) د زوی ابراهیم له وفات سره سمه وه، نو خلکو وویل: لمر د ابراهیم د مړینې له امله ونیول شو، خو نبي - (صلی الله علیه وسلم)- وفرمایل: پرته له شکه لمر او سپوږمۍ نه د چا د مړینې او نه د چا د ژوند له امله نیول کیږي، بلکې هغه دواړه د الله له نښانو څخه دي، الله خپل بندګان پرې ډاروي، نو که چېرته نبي - (صلی الله علیه وسلم) - د دروغو دعوی کوونکی وای، نو د دې لپاره چې خلک یې دروغجن ونه ګڼي خلک به یې ویرولي وو او داسې به یې ورته ویلي و چې لمر زما د زوی د مړینې له امله نیول شوی؛ نو د هغه چا به څه حال وي چې ما درواغجن وګڼي.

رسول - (صلی الله علیه وسلم) - لره یې خپل پالونکي په بشپړو خویونو ښایسته کړی و او الله په خپله وینا داسې ستایلی دی:

وَإِنَّكَ لَعَلى خُلُقٍ عَظِيمٍ (٤).
او پرته له شکه ته پر لويو خويونو يې.
د القلم سورت: (۴)

هغه پر هر ښه خوی ياد شوی و، لکه رېښتينولي، اخلاص، زړورتيا، عدل او وفاء آن د دښمنانو پر وړاندې هم، سخاوت او پر بې وزلو او بېچاره خلکو، کونډو او اړمنو يې خيرات کول خوښول، او د هغوی د لارښوونې حرص يې لرلو، پر هغوی مهربانه و او له هغوی سره يې تواضع کوله، تردې چې يو نا پېژانده سړی به راغی رسول (صلى الله عليه وسلم) به يې لټولو، د هغه په اړه به يې اصحابو (رضي الله عنهم) څخه پوښتنه کوله پداسې حال کې چې هغه به د هغوی په منځ کې و خو نه به يې پېژندلو؛ نو ويل به يې: په تاسو کې محمد څوک دی؟.

د هغه ژوند د هر چا سره د هغه په معامله کې د کمال او شرافت نښه وه له: دښمن او دوست، نږدې او لېرې، لوی او کوچني، نارينه او ښځينه، څاروي، الوتونکي او ټولو سره.

کله چې الله د هغه لپاره دين بشپړ کړ او رسول -(صلى الله عليه وسلم)- رسالت په بشپړه توګه ورساوه، نو د درې شپېتو کلونو په عمر وفات شو، چې له هغو څخه څلوېښت کاله مخکې له نبوت او درويشت کاله د نبي او رسول په توګه. او په نبوي مدينه کې هغه -(صلى الله عليه وسلم)- خاورو ته وسپارل شو، له هغې سپينې قچرې پرته چې پرې سپرېده به او له هغې ځمکې چې د مسافرو لپاره يې خيرات کړه، نور يې هيڅ مال او ميراث پرې نښودل.

او کومو کسانو چې اسلام راوړی وو، هغه یې ریښتینی بللی و او د هغه پیروي یې غوره کړې وه ډېر خلک وو، او له اصحابو یې چې کومو کسانو وروستی حج ورسره وکړ، هغوی تر یو لک زیات وو، او دا حج شاوخوا درې میاشتې مخکې تر وفات یې و او کېدای شي دا یې د دین د ساتنې له رازونو او خپربدو څخه وي، او کوم اصحاب یې چې پر نبغ اسلام، د هغه پر بنسټونو روزلي وو د عدالت، پرهېزګارۍ، وېرې، وفا او د دغه لوی دین چې ایمان یې پرې راوړی وو، تر ټولو غوره ملګري یې وو.

او له اصحابو (رضي الله عنهم) اجمعین څخه یې تر ټولو د زیات ایمان، پوهې، عمل، اخلاص، تصدیق، قربانۍ، زړورتیا او سخاوت خښتنان: ابوبکر صدیق، عمر بن الخطاب، عثمان بن عفان، علي بن ابي طالب (رضي الله عنهم) وو، او هغوی لومړني هغه خلک وو چې ایمان یې پرې راوړ او ریښتینی یې وبللو، او له هغه وروسته یې ځای ناستي وو، هغه کسانو چې د دین بیرغ یې له هغه وروسته پورته کړ، هغوی لره د نبوت هیڅ ځانګړنه نه وه او نه یې له نورو صحابه و (رضي الله عنهم) څخه کوم ځانګړی امتیاز ورکړ.

الله یې خپل کتاب چې هغه ورسره راغلی و، د هغه سنت، سیرت، ویناوې او کړنې یې پر هغه ژبه وساتلې چې خبرې یې پرې کړې وې، د تاریخ په اوږدو کې هیڅ سیرت داسې ندی خوندي شوی، لکه څنګه چې د هغه (صلی الله علیه وسلم) سیرت ساتل شوی، بلکې دا خبره هم خوندي کړل شوې چې هغه څنګه ویده کېده، څنګه یې خوراک کولو، څنګه یې څښاک کولو او څنګه یې خندل. او څنګه یې په خپل کور کې له کورنۍ سره چلند کاوه؟ او د هغه ټول حالتونه

خوندي او په سيرت کې ليکل شوي دي، هغه يو بشر رسول دی، هغه لره د ربوبيت هيڅ ځانګړنه نشته او نه ځان لره د ګټې او زيان واک لري.

❖❖❖

## رسالت يې

الله وروسته له هغې محمد (صلى الله عليه وسلم) ولېږه چې د ځمکې په شاوخوا کې ناپوهي، کفر او شرک عام شول او د ځمکې پر مخ داسې څوک نه و چې يوازې د الله عبادت دې وکړي او څوک دې ورسره شريک نکړي، مګر د ګوتو په شمېر يو څو له اهل کتابو څخه وو، نو الله خپل استازی محمد (صلى الله عليه وسلم) د نبيانو او رسولانو د لړۍ پای ته رسوونکی ولېږه، له لارښوونې او حق دين سره يې ټولو مخلوقاتو ته ولېږه، تر څو يې پر ټولودينونو برلاسی کړي، او خلک د بت لمانځنې، کفر او ناپوهۍ له تيارو څخه د ايمان او يووالي رڼا ته را وباسي، د هغه رسالت د مخکېنيو نبيانو عليهم السلام د رسالتونو لپاره بشپړوونکی دی.

هغه هم ټولو هغه څه ته بلنه کوله چې نورو نبيانو او رسولانو عليهم السلام: نوح، ابراهيم، موسى، سليمان، داؤد او عيسى کوم ايمان ته بلنه کوله چې پالونکی هغه الله دی چې پيداکوونکی، روزي ورکوونکی، مرګ او ژوند ورکوونکی، د پاچايۍ څښتن، او هغه ذات دی چې چارې سمبالوي، هغه مهربانه بښونکی دی، او دا چې الله د هر هغه څه پيداکوونکی دی چې په کايناتو کې دي هغه که موږ يې وينو او که يې نه وينو، او له الله پرته نور څه چې دي د هغه له مخلوقاتو څخه يو مخلوق دی.

لکه څرنګه يې چې يوازې د الله لمانځنې ته بلنه کوله او له هغه پرته د نورو لمانځل يې پرېښودل، او ډېر په څرګنده يې بيان کړل چې الله يو دی، هغه په عبادت، پاچايی، مخلوق او تدبير کې هيڅ شريک نلري، او دا خبره يې بيان کړه چې له الله پاک څخه نه څوک زېږېدلي دي او نه له چا زېږېدلی دی او نه هغه لره سيال شته او نه څوک ور ورته دي، نه په خپل مخلوق کې حلول (ننوتل) کوي او نه د هغه په جسد کې ښکاره کيږي.

او پر الهي کتابونو ايمان راوړلو ته يې بلنه ورکړه لکه: د ابراهيم او موسی عليهما السلام صحيفې، تورات، زبور او انجيل، همدا رنګه يې پر ټولو پيغمبرانو عليهم السلام ايمان راوړلو ته بلنه ورکړه، او دا يې و انګيرله چې چا يو نبي دروغ وګاڼه نو ګويا پر ټولو انبياو عليهم السلام يې کفر وکړ.

او ټولو خلکو ته يې د الله د لوريينې زيری ورکړ، او دا چې الله همغه ذات دی چې په دنيا کې د هغوی لپاره بسنه کوي، او دا چې هغه پالونکی مهربان دی، او يوازې هغه به د قيامت په ورځ له خلکو سره حساب کوي کله چې هغوی ټول له قبرونو را پورته کړي، او دا چې همغه به مؤمنانو ته يې پر نيکو او ښو کړنو لس برابره بدله ورکوي، او د بدۍ به يو برابر، او هغوی لره به په آخرت کې تلپاتې پېرزوينې وي، او چا چې کفر او بد کارونه وکړل، په دنيا او آخرت کې به يې بدله ترلاسه کړي.

او رسول محمد (صلی الله عليه وسلم) په خپل رسالت کې خپله قبيله، ښار او ځان مبارک ونه ستايه، بلکې په قرآن کريم کې د نورو نبيانو نوح، ابراهيم، موسی او عيسی عليهم السلام نومونو د هغه تر نوم زيات راغلي دي، د هغه د مور او بيبيانو نومونو په قرآن کې ندي بيان شوي، خو د موسی عليه السلام

د مور نوم څو ځلې راغلی دی، او د مریم علیها السلام یادونه پنځه دېرش ځلې راغلې ده.

او رسول محمد - (صلی الله علیه وسلم)- له ټول هغه څه څخه پاک دی چې له شریعت، عقل او فطرت سره ټکر وي او سم خوی یې ردوي، ځکه نبیان علیهم السلام په هغه څه کې چې د الله له لوري یې خلکو ته رسوي معصوم وي، او ځکه چې هغوی بندګانو ته د الله د اوامرو په رسولو مکلف وي، او نبیان هیڅ د ربوبیت او الوهیت ځانګړنه نه لري، بلکې هغوی د نورو انسانانو غوندې انسانان دي، چې الله هغوی ته خپل پیغامونه وحي کوي.

او تر ټولو لوی شاهد چې د رسول محمد (صلی الله علیه وسلم) رسالت د الله له لوري وحي ده، هغه دا دی چې تر نن ورځې داسې شتون لري لکه د هغه په ژوند کې یې چې شتون درلود، او تر ملیارد زیات مسلمانان یې پیروان دي، د شریعت واجبات لکه لمونځ، زکات، روژه، حج او داسې نور یې پرته له بدلون او کوږوالي پلي کوي.

❖❖❖

## د هغه د نبوت دلایل او نښې نښانې

الله د خپلو نبیانو پر داسې نښانو تایید کوي چې د هغوی پر نبوت دلالت کوونکې وي، او د هغوی لپاره حجتونه او برهانونه راوړي چې د هغوی پر رسالت شاهدي ورکوي، او الله هر نبي ته داسې نښانې ورکړې دي چې د بشر د ایمان راوړلو لپاره بسنه کوي، او تر ټولو لویې نښې چې نبیانو ته یې ورکړې دي دا دي چې زموږ نبي محمد (صلی الله علیه وسلم) ته یې ورکړې دي، نو هغه ته الله قرآن کریم ورکړ، چې هغه به د قیامت تر ورځې تلپاتې وي، لکه څرنګه چې

الله هغه پر لویو نښانو (معجزو) تایید کړی دی، او د محمد (صلی الله علیه وسلم) نښې زیاتې دي چې ځینې یې.

اسراء(د شپې پر مهال سفر کول)، معراج (پورته ختل)، د سپوږمۍ چاودېدل، څو څو ځلې د هغه له دعا وروسته د باران ورېدل، ترڅو له وچکالۍ وروسته خلک اوبه ترلاسه کړای شي.

د لږو خوړو او اوبو زیاتوالی، چې له هغو به زیاتو خلکو خوراک او څښاک کاوه.

او له هغو غیبو څخه خبر ورکول، چې پر تفصیلاتو یې هیڅوک هم نه پوهېدل، چې الله هغه ته دا خبر ورکړی و، لکه له نبیانو علیهم السلام سره د هغوی د قومونو کیسې او د اصحاب کهف کیسه.

او د راتلونکو غیبو (پېښو) خبر ورکول چې وروسته به رامنځته کیږي د الله پاک په خبر ورکولو سره لکه د هغه اور د راوتلو خبر چې د حجاز له ځمکې به وځي او هغه څوک به یې ویني چې په شام کې به وي او د خلکو تر منځ د لوړپوړیزو ودانیو په جوړولو کې سیالۍ.

او د هغه لپاره د الله کفایت او له خلکو څخه یې ساتنه.

او خپلو ملګرو ته یې ژمنې پوره کېدل، لکه هغوی ته یې دغه وینا: هرومرو به پر تاسو فارس او روم فتحه کړل شي، او هرومرو به یې خزانې د الله په لار کې ولګوئ.

د الله له لوري یې پر پرېښتو تایید.

او د نبیانو علیهم السلام له لوري خپلو قومونو ته د رسول محمد (صلی الله علیه وسلم) د نبوت زېری ورکول چې په هغو کې موسی، داؤد، سلیمان او عیسی علیهم السلام او داسې نورو د بني اسرائیلو له نبیانو څخه زېری ورکړ.

او پر داسې عقلي دلايلو او مثالونو بيانولو يې تاييد کړ چې سالمو عقلونو ته د منلو دي.

او دغه آيتونه، دلايل او عقلي مثالونه په قرآن کريم او نبوي سنتو کې ثابت دي، او ايتونه يې تر شمېر زيات دي، او څوک چې پرې ځان پوه کول غواړي؛ نوقرآن کريم، د احاديثو په کتابونو او نبوي سيرت کې د دغو ايتونو په اړه يقيني خبر دی.

او دغه لويې نښې که نه وای رامنځته شوې، نو د قريشو، يهودو او نصاراو هغو کافرانو چې په عربي جزيره کې وو، هغوی به دروا‌غجن ګڼلی و او خلکو به ډېره ترې کړې وای.

او قرآن کريم هغه کتاب دی چې الله، رسول محمد (صلی الله عليه وسلم) ته وحي کړی او هغه د رب العالمين کلام دی، او الله انسانان او پېريان ننګولي چې د هغه په څېر يا د هغه د يو سورت په څېر راوړي، او دغه ننګوونه به تر قيامته وي، قرآن کريم مهمو پوښتنو ته ځواب ورکوي هغه چې په ميليونو خلک يې په اړه حيران وو، او قرآن عظيم تر نن ورځې په هغه عربي ژبه خوندي دی چې پرې نازل شوی و، له هغه هيڅ توری ندی کم شوی، هغه چاپ او خپور شوی دی، او هغه لوی عاجزوونکی کتاب دی، د هغه لوستل او د معناوو ژباړه يې په لوستلو ارزي، او له چا څخه چې د هغه په اړه خبرتيا او پر هغه ايمان راوړل پاتې شول؛ نو له هغه بشپړ خير پاتې شو. لکه څنګه چې د رسول محمد (صلی الله عليه وسلم) تکلاره، د هغه لارښوونه او سيرت د باوري راويانو له لړۍ سره سم خوندي را رسېدلي دي او پر هغه عربي ژبه چاپ شوي چې رسول محمد (صلی الله عليه وسلم) پرې خبرې کولې، داسې لکه اوس چې زموږ په منځ کې

ژوند کوي، او زيات شمېر ته ژباړل شوي دي، قرآن کريم او د رسول (صلی الله عليه وسلم) سنت دواړه د اسلام د حکمونو او قوانينو يوازېنۍ سرچينې دي.

❖❖❖

## هغه شريعت چې رسول محمد (صلی الله عليه وسلم) ورسره راغلی دی

له کوم شريعت سره چې رسول محمد (صلی الله عليه وسلم) راغلی هغه د اسلام شريعت دی، هغه د ټولو رباني شريعتونو او الهي پيغامونو ختموونکی دی، هغه د مخکېنيو نبيانو له شريعتونو سره په اصولو کې برابر دی که څه هم په کيفيت کې ورسره توپير لري.

او هغه د بشپړتيا شريعت دی، د هرې زمانې او ځای لپاره وړتيا لرونکی دی، په هغو کې د خلکو د دين او دنيا خير دی، هغه ټولو هغو عبادتونو ته شامل دی چې د الله رب العالمين لپاره پر بندګانو واجب دي لکه: لمونځ، زکات، او هغوی ته مالي، اقتصادي، ټولنيزې، سياسي، جنګي او سيمه ييزې روا او ناورا او داسې نورې معاملې بيانوي، کومې چې د انسان د ژوند او آخرت غوښتنې دي.

او دغه شريعت د خلکو له دينونو، وينو، عزتونو، مالونو، عقلونو او نسلونو څخه ساتنه کوي، هغه ټولو فضيلتونو او نېکيو ته شامل دی، له هرې بدۍ او شر څخه ډارول کوي، انساني کرامت، منځلارۍ، عدل، اخلاص، پاکوالي، باور، مينې، د خلکو خير غوښتنې، وينې خونديتوب، هېوادونو ساتنې، له حق پرته د خلکو د وېرې او ډارولو ناروااوالي ته بلنه کوي، او رسول محمد (صلی الله عليه وسلم) د تېرې او فساد د هر صورت او شکل او خرافاتو، ګوښه والي او رهبانيت پر وړاندې جنګ و.

اورسول محمد -(صلی الله علیه وسلم)- دا خبره په ډاګه کړه چې الله د انسانانو نارینه او ښځینه و ته درنښت ورکړی، د هغوی د ټولو حقوقو کفالت یې کړی، هغه یې له خپلو ټولو اختیاراتو، کړنو او تصرفاتو په اړه مسؤول ګرځولی دی، او د هغه کار مسؤولیت یې ور په غاړه کړی چې ځان یا نورو ته زیان ورسوي. نارینه او ښځینه یې د ایمان، مسؤولیت، سزا او بدلې له اړخه برابر ګرځولي دي، او په دغه شریعت کې ښځینه ته د مور، مېرمنې او خور په توګه ځانګړې پاملرنه شوې ده.

او هغه شریعت چې رسول محمد (صلی الله علیه وسلم) ورسره راغلی، هغه د عقل ساتنې او ټولو هغو شیانو له ناروااوالي سره راغلی چې عقل خرابوي، لکه د شرابو څښل، نو اسلام؛ دین رڼا بللی چې عقل ته یې لار روښانه کوي، تر څو انسان د خپل پالونکي عبادت په بصیرت او پوهه ترسره کړي، او اسلامي شریعت د عقل شان لوړ کړ او هغه یې د تکلیف مدار وګرځولو او له خرافاتو او بت لمانځلو څخه یې آزاد کړ.

اسلامي شریعت د صحیح پوهې درناوی کوي، او له نفسي غوښتنو خالي پوهې ته هڅوونه کوي، په ځان او نړۍ کې د فکر او غور کولو ته بلنه کوي، د پوهې سمې علمي پایلې له هغه څه سره په ټکر کې ندي چې رسول (صلی الله علیه وسلم) ورسره راغلی دی.

او په شریعت کې له خلکو څخه د یو ځانګړي جنس له بل جنس سره توپیر نشته، یو ټبر پر بل غوراوی نلري، بلکې ټول د هغه د حکمونو پر وړاندې برابر دي، ځکه خلک د اصل له پلوه ټول سره برابر دي، یو جنس پر بل جنس غوراوی نلري، او نه یو ټبر پر بل لوړوالی لري مګر د ځان ساتنې (تقوا) له مخې،

او رسول محمد (صلی الله علیه وسلم) دا خبر ورکړی چې هر بچی پر فطرت پیداکیږي او هیڅ انسان ګناهکار یا د بل ګناه په میراث وړونکی نه پیداکیږي.

په اسلامي شریعت کې الله توبه روا کړې ده چې هغه: د انسان خپل پالونکي ته ورګرځېدل او د ګناه پرېښودل دي، اسلام مخکې ګناهونه له منځه وړي؛ او توبه هم مخکې ګناهونه له منځه وړي، نو د خلکو په وړاندې د انسان خپلو ګناهونو منلو ته اړتیا نشته، په اسلام کې د انسان او الله ترمنځ اړیکه نېغ په نېغه وي، هېڅاته اړتیا نه وي ترڅو ستا او د الله تر منځ واسطه شي، اسلام منع کوي له دې څخه چې موږ له انسان څخه الله جوړ کړو او یا یې له الله سره په ربوبیت او الوهیت کې شریک کړو.

له کوم شریعت سره چې رسول محمد - (صلی الله علیه وسلم) - راغلی، هغه د هر مخکېني شریعت ناسخ دی، ځکه له کوم شریعت سره چې محمد (صلی الله علیه وسلم) د الله له لوري راغلی هغه تر قیامته د تر ټولو وروستی شریعت دی او د ټولو خلکو لپاره دی؛ نو له همدې امله یې مخکېني منسوخ کړل، لکه څنګه چې مخکېني ځینې پر ځینو منسوخ شول، اوس الله پاک له اسلام پرته بل شریعت نه مني او له هغه اسلام پرته بل دین نه مني چې رسول محمد (صلی الله علیه وسلم) ورسره راغلی دی، او څوک چې له اسلام پرته د بل دین پیروي کوي هیڅکله به ترې ونه منل شي، او څوک چې د دغه شریعت د حکمونو د تفصیل پېژندګلوي غواړي؛ نو په هغو باوري کتابونو کې یې دې ولټوي چې اسلام تعریفوي.

د اسلام د شریعت موخه هغه څه دي لکه د ټولو الهي رسالتونو موخې: چې حق دين انسان لوړوي، نو يوازې د رب العالمين؛ الله بنده کيږي، د انسان، مادې او خرافاتو له بندګۍ يې آزادوي.

پرته له شکه د اسلام شريعت د هر ځای او زمانې لپاره وړ دی، هيڅ داسې څه پکې نشته چې د انسان له سمو ګټو سره دې په ټکر کې وي، ځکه هغه د داسې الله له لوري را نازل شوی چې هغه پر هر هغه څه پوهيږي چې انسان اړتيا ورته لري، انسانان په خپل ځان کې داسې سم شريعت ته اړ دی، چې ځينې يې له ځينو سره ټکر نه وي، د بشريت لپاره اصلاح کوونکی وي، يو انسان له بل انسان څخه نه وي جوړ کړی، بلکې د الله له لوري راغلی وي، خلک د ښېګڼې او سمې لارې ته لارښوونه کوي، کله چې هغه غاړه کېږدي؛ نو چارې يې سمې شي او ځينې د ځينو له تېري څخه خوندي شي.

❖❖❖

## پروړاندې يې د دښمن دريځ د هغه په حقانيت ګواهي ورکوي

په دې کې هيڅ شک نشته چې هر نبي دښمنان لرل چې له هغه سره يې دښمني کوله او د هغه د بلنې په لار کې به درېدل او خلک يې له ايمان راوړلو څخه راګرځول، همدارنګه رسول محمد (صلى الله عليه وسلم) په خپل ژوند کې او له مرګ وروسته ډېر دښمنان لرل، او الله د هغوی ټولو پر خلاف د خپل نبي مرسته وکړه، او له هغوی د زياتو شاهدي په تواتر سره مخکې او وروسته راغله، چې هغه نبي دی او دا چې هغه له داسې څه سره راغی چې مخکېني نبيان عليهم السلام ورسره راغلي وو او هغوی پر دې پوهېدل چې هغه حق دی، خو له هغوی ډېری د زياتو خنډونو له امله له ايمان راوړلو راګرځېدل لکه د

رياست مينه او له ټولنې وېره او يا د هغه مال له لاسه ورکول چې له خپلې دندې يې ترلاسه کاوه.

او ټولې ستاينې يوازې د مخلوقاتو پالونکي الله لره دي.

❖❖❖

ډاکټر استاذ محمد بن عبد الله السحيم ليکلی دی.

د اسلامي زده کړو څانګه کې دعقيدې پخوانی استاذ

د ملک سعود پوهنتون د تربيې پوهنځی

رياض، شاهي سعودي عربستان.

## فهرست

د اسلام رسول محمد (صلى الله عليه وسلم) ........................................ ٤
د هغه نوم، نسب او هغه ښار يې چې پکې زيږيدلی او لوی شوی دی...... ٤
مبارک واده له مبارکې مېرمنې سره ..................................................... ٥
د وحې پيل .............................................................................. ٥
رسالت يې ............................................................................ ١٢
د هغه د نبوت دلايل او نښې نښانې ................................................ ١٤
هغه شريعت چې رسول محمد (صلى الله عليه وسلم) ورسره راغلی دی
............................................................................................ ١٧
پر وړاندې يې د دښمن دريځ د هغه په حقانيت ګواهي ورکوي............ ٢٠

# تعرف على الإسلام

## بأكثر من 100 لغة

موسوعة القرآن الكريم
QuranEnc.com

ترجمات متقنة لمعاني القرآن الكريم بأكثر من (75) لغة

بيان الإسلام
byenah.com

مواد منتقاة للتعريف بالإسلام وتعليمه بأكثر من (120) لغة

موسوعة الأحاديث النبوية
HadeethEnc.com

ترجمات متقنة للأحاديث النبوية وشروحها بأكثر من (60) لغة

ما لا يسع أطفال المسلمين جهله
kids.islamenc.com

أسئلة وأجوبة لأطفال وعامة المسلمين بأكثر من (40) لغة

جامع المحتوى الإسلامي باللغات
islamcontent.com

مواد إسلامية متنوعة وشاملة بأكثر من (125) لغة

موسوعات وخدمات إسلامية باللغات
s.islamenc.com

للمزيد
من المواقع الإسلامية
بلغـــــات العـــالم


جمعية الدعوة
وتوعية الجاليات بالربوة

جمعية خدمة المحتوى
الإسلامي باللغات




Ps198

ISBN/978-603-8402-69-6